دوکتور صلاح الدین سعیدی – سعیدافغانی ۲۰۱۱/۱۱/۲۵

# دودیزه مشورتي لویه جرګه که یوه بله دوکه؟

په افغانستان کې جرګه یوه دودیزه قبایلي غونډې باندې اطلاق کیږي چې پښتانه قبایل یې د خپلو ستونزو د هواری لپاره جوړوي. د داسې او ورتـــــه مثبتو دودنو څخه نه یواځې په افغاني ټولنه کې بلکې په بعضې نورو انساني ټولنو کې د هغوی د انکشاف او پرمختګ په ټاکلو برخو او پړاونو کې ګټه اخیستل شوې او کیږي. داسې دودونه او دژوند د مسایلو دحل د تګلاری میتودونه خپل منطق، مشروعیت او د تاریخي او دیني اصولو او مبادیو په لرلو سره خپل اساس او اعتبار لري.

مهم او اساسي خبر ده چې ددې درنو او دقدر وړ دودونو د لارو او اصولو درست او په ځای مراعات حتمی خبر ده چې د هغو څخه سرغړونه ډیر بد او خطرناک عواقب لري او داسې معتبر، قانونی مطالب بې محتوی کوي.

په یقینی ډول باید تأکید وشي چې ددې په اصطلاح مشورتي، دودیزی، تقلبي لویې جرګې سره له دې کبله چې مشروعیت یې د سوال لاندې دې، د افغانستان د نافذ اساسي قانون له تعریف سره برابره نه ده او په نهایي تحلیل کې یو بله دوکه ده، مخالفت کول په هیڅ توګه ددې مانا نلري چې ګواکې د جرګې او لوې جرکې سره چې د افغانستان د تاریخ او حاضر واقعیتونو او حقوقي سیستم جز دې، مخالفت و ګڼل شي.

په دې برخه کې د ټولو صالحو، خیر خوا او رسالتمندو انسانان وظیفه ده چې په درایت، پوهې، سیاسي پوخوالی او منطق د داسې دوکو او ناروا ګټو اخیستنو نه ټولنه خبره، تنویري او توضیحی کار ته داسې سازمان ورکړي چې ټولنه او خلک پری په آزاد قضاوت خپله لار او انتخاب وکړای شي. پکار ده چې د دې تاریخي دود اود افغانستان په نظام کې مهم قانونی اصل او مرجع څخه د ټولنې د وګړو د نیکو، ملي احساساتو او اصولو څخه د ناروا ګټې اخیستو او سؤاستفاده مخنیوی وشي.

دا چې انساني ټولنې او دټولنې د ژوند قوانین او اصولو هم دانسانی ټولنې د پرمختګ او انکشاف سره انکشاف کوي او په دې سلسله کې قوانین هم د غیر مدونو او غیر واحد قبول شوي متونو له پړاو او مرحلې څخه د مدون او واحد قبول شوي اصولو په توګه انکشاف کوي هم منل شوې خبر او واقعیت دی. دغه د غیر تحریري پروسه او د لیکل شوی متعددو منابع لکه د مرجع په توګه د یو واحد منل شوي او واحد لیکل شوي مدون قانون په توګه پروسه د افغانستان د تاریخ په تیره نیمه سده کې بنیادی انکشافات لره چې هیڅکله نباید له نظر واچول شي او پام ورته ونشي.

په یقین ویلی شم چې د لویی جرګې، دودیزې جرګې، د خلکو د ریښتنی ارادې، د خلکو استازې، ملي ګټو، دیموکراسی، آزادی د آزاد بازار اقتصاد او داسې نورو مفاهیمو نه د افغانستان په تاریخ او په دې تیرو لسو کلو کې ناروا ګټه اخیستل شوې.

داچې د افغانستان د اقتصادي چارو اوسني مسؤولین ( محترم عبدالحق احدی – امریکی غږ آشنا رادیو ۲۰۱۱/۱۱/۲۱) وایي چې دافغانستان دولت په افغانستان کې د آزاد بازار د اقتصاد د اصولو پر خلاف په بازار کې د نرخونو د کنترول په برخه کې مداخله نشي کولای.... یو نادرسته او بې ځایه خبر ده.

په کلکه دویلو وړ ګڼم او تأکید کوم، هغه آزاد بازار چې قانون پرې حاکمیت ونه لري، شفاف او لازم قانونی بسترونه ورته نه وي ایجاد شوي او هرڅه عرضه او تقاضا تعیین کړي، د آزاد رقابت امکانات په کې محدود وي، په اقتصاد کې مافیایی روابط حاکم وي او د مستهلکینو د دفاع اداری د دولت په مرسته نه وي فعالې شوي او .....له سره د منلو وړ نه دی.

زمونږ په حالت کې دنورو نیمګړتیاو او دوکو سره پورتنې نیمګړتیاوی، غیر قانونی او غیر مطلوب حالت په دقت سره وجود لري او مافیای ګټې لاس په لاس ورکوي او د آزاد بازار او اقتصاد ترنامه لاندې شخصی جیبونو او مافیایی احتکاری، حاکمو روابطو ته په هدفمنده او یا هم معذورانه توګه، کارکیږي.

په یقینی ډول د افغانستان د اوسني انکشافی مرحلې په نظر کې نیولو سره د مختلط اقتصاد نه دوسیلې په توګه ګټه اخیستل او پکارول او په دې توګه د ۲۱ سدې ریښتینی، درست د آزاد بازار مهار شوي اقتصاد ته دسالمو قوانینو د بسترونو په ایجادولو، رسیدل او پکارول، په کار دي.

زمونږ په حالت کې په افغانستان کې په معینو اقتصادي برخو کې( انژري او ...) د مافیایی (دولتی افراد په جنایت کې لاس لرنې ته
مافیایی حالت وایي) حاکمیت انحصاری مالکیت وجود لري.

د افغانستان بانک مسأله او دهغه تونلول او په دې توګه د بي کفایه حاکمیت او جنایت اعمال په سرمایه داری سیستم کې کومه نوې خبر نه ده چې مخنیوې یي ونه شي. د بانکداری په سیستمونو کې د بانکونو تونلول ډیر ځلي هم شوې او


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دبندولو لاري يې هم د قانون دحاکمیت په نظام کې وجود لري. مشکل هغه وخت خطر ناکه دی چې مافیا په قدرت وي د تخلف او متخلف مخنیوی و نه شي، قانوني معافیت وجود ولري او قانون د تطبیق لپاره سیاسي اراده وجود ونه لري. که ظاهرا هم څه اقدامات کیږي یواځې ددوکې په منظور صورت مومي. هو په دې مشخصه برخه کې د تحقیق عدم شفافیت د دولت د لوړ پوړو چارواکو لاس او ونډه په ښکاره ډول لیدل کیږي. دا چې څوک ددې کار شفافه زمینه برابره کړي او څوک به تحقیق وکړي او وکولای شي وخت به دهغه خواب ورکړي؟ هو ډیر وخت تیر شو اما په دې برخه کې عملا اقدام و نشو. هو افغانانو او نړیوالي ټولني ته په ښکاره ډول دوکه ورکول کیږي او ورکول شوي ده.
هو زمونږ په حالت کې د دیموکراسی ترعنوان لاندی د قانون دحاکمیت نه پرته په دیموکراسی ملنډې وهل کیږي.
په ټاکنو کې وسیع تقلب کیږي او فرمایشي دولتی جیره خواره د خلکو د استازو په نامه قلابی لوې جرګې ته غونډل کیږي. دې جرګې ته کله لویه جرګه او بیا د افغانستان د اساسي قانون د مندرجاتو سره د خلاف په حالت کې ورته مشورتی نوم ایښودل کیږي او بیا په مختلفو مناسبتو او نړیوالې ټولني او بیخبرو ته د دوکې لپاره د مشورتي کلیمه اوصفت په ډیرو موارد کې عمدا حذفیږي (لطفا نني مطبوعاتو ته مراجعه وکړئ!).

هماغسي چې مو وویل د افغانستان د ټولني سیاسي، او ټولنیز مسایل د دې ټولني د قومي جوړښت او په دې سلسله کې د طبیعی اتوریتو او قومی شخصیتونو، مشرانو او څواکونه په نظر کې نیولو سره اوبیا وروروسته په تاریخی لحاظ اوپه وروستی نیمه سدې کې په افغانستان کې د مدونو قوانینو او د هغه جملې نه د اساسي قانون دموجودیت او د هغه دنورمونو په رڼا کې په افغانستان دا وروستی لویه جرګه چې بیا دودیزه او بیا مشورتي هم ګڼل شوې داسي اساسي او بنسټیزې نیمګړتیاوی لري چې له سره د منلو وړ نه ده.
**لکه څنګه چې مو په مستدل ډول ولیکل داجرګه دودیزه نه وه:** له دې کبله چې په دودیزه جرګه کې د ټولني طبیعي اتوریتي او د طبیعي اعتبار خاندان د وطن د مهمومسایل په هکله د تصمیم لپاره جرګې ته غونډل کیږي، داجرګه (لویه جرګه ) له بحث وروسته تصامیم نیسی، د پریکړو او تصامیمو اجراء وجوبیت او حتمی والي لري او د تخلف په صورت کې متخلف ته جزا او سزا مطرح ده.
هو دې جرګې ته په اولنی رسمی افتتاحیه وینا کې د دودیزی، مشورتی نوم ورکړل شو او بیا د حاکمیت د فرمایشي افرادو په راغوښتو او ګډون چې اکثر یې عوام الناس هم دي او ددې حاکمیت په ټولو نمایشو او لوبو کې ظاهریږي او د والیانو او د حاکمیت مأمورین دي، نشوکولای لویه جرګه وواېو.
په دې توګه داجرګه یو مشروع لویه جرګه نه ده او ترکیب یې هم ددې هیواد داساسي قانون سره مخالفت لري او دافغانستان په حقوقي سیستم کې کوم اساس او مبدا نه لري.
دا جرګه حتی د افغانستان د اساسي قانون د ۶۵ مادې دریښتني مفهوم سره هم موافقه نه ښکاري او نه ده. له دې کبله چې خلکو ته مراجعه په معمولي ډول په مستقیمه توګه ( ریفراندوم او یا مستقیمي دیموکراسی) او یا غیر مستقیمه توګه (پارلماني دیموکراسی یعنی ملت نمایندګان ته رای او اعتماد ورکوي اوبیا نمایندګان د ملت به استازي توب برمسایلو تصمیم نیسي) صورت مومي. که چیری دا حاکمیت د اساسی قانون ۶۵ ماده داسي تفسیروی چې یو څو فرمایینی افرادرا غواړي او د سترمادي او زمانی مصرف په کولو مشوره ورسره کوي هم په پایله کې منطق او لازم قوت نه لري. ددې مادې دا تفسیر را ته هم چندان غوره او مناسب نه ښکاري.
هو په یقینی توګه داکومه نوې خبر نه ده چې لویه جرګه د افغانستان په تاریخ او دینی اصولو کې او د اساسي قانون سره سم خپل خاص مقام او منزلت لري. هو لویه جرګه **د ملت دلوړترینې ارادې د مظهر په توګه منل شوې** او دې مهم اصل ته د افغانستان د اساسی قانون شپږم فصل هم ځانګړې کړای شوای دی.
په دې توګه د افغانستان هیڅ سیاسي شخصیت، سازمان او ملی وطنپاله ځیره د لوې جرګې نقش، صلاحیت د افغانستان په حقوقی او سیاسی سیستم کې نه شی ردولای او د ردولو هم نه ده. دا په دې خاطر هم چې د افغانستان خلک مسلمان دي او لویه جرګه د« امرهم شورا بینهم» له اصولو سره هم برابره ده.
دیموکراسی او د خلکو حاکمیت هم دا حکم کوي چې د خلکو سرنوشت باید د خلکو د استازو په لاس په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه تعیین او د ملت مشروع حاکمیت ایجاد شي کوم چې بیا دا مشروع حاکمیت د مسایلو او کړکیچونو د حل توان او قدرت ولري. هغه قدرت او حاکمیت چې دخلکو د ارادې مظهر وی او په سیاسی ستیج کې عینی خلاوی او کمبودې وجود و نه لري. داحالت یواځې او یواځې د مشخص، درست تعریف شوی سیاسی مصالحی او سیاسي مفاهمي په صورت کې راتلاې شي او ممکنه ده.
هو د دیموکراسی سره هغه څوک زیاد پرابلم لري چې هغه جدي امر او موضوع ګڼي. هغوي چې داوسیله د خپلو شوموماو ناروا اهدافود پېتولول لپاره پکاروی د دیمکراسي سره کوم مشکل نه لري.
په دې توګه په افغانستان کې د ۱۳۹۰ لیږدیز کال د لړم د ۲۵ نیټې (۱۶ نوامبر سال ۲۰۱۱ م ) لویه عنعنوي مشورتي؟! جرګه چې د ۲۰۳۰ تنو په ګډون او فرمایشي حضور په ډیرو مادي او معنوي مصارفو وشوه واقعا د افغانستان د خلکو د ارادې مظهر نه وه. دا لویه جرګه یو ظاهري تبلغاتي کار او یو فریب، دوکه او د خلکو د احساساتو نه ناروا سیاسي ګټه اخیستل وه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داچې دغه ډله اویا هغه ډله به پرې د اپوزیسیون رول لوبول غواړي، داچې دغه او یا هغه ډله به ددې وطن د تاریخ او د واقعیتونو په خلاف د جرګې او لوی جرګې سره مخالفت کوي، داچه دا موضع ګیري به د ایران، پاکستان او روسیې د بادارانو او یاد دغه او یا غیر مشروع ظاهری اویا باطنی شومو اهدافو، د افغانستان د اساسي قانون په خلاف ردوي، بله خبر ده، خو په یقین ویلای شم چې دا لویه جرګه نه دودیزه وه او نه هم مشورتي.

دا جرګې ته اول دودیزه ویل په دې جرګې کې د طبیعی اتوریتې لرونکو شخصیتونو عدم حضورنفیه کوي او د مشورتي صفت بیا له سره دودیز صفت نفیه کوي. په دې مانا چې په دودیزه جرګه کې تصامیم واجب الاجرا او متخلف سره جزایی مسأله مطرح کیږی او په مشوره کې جزا نه شي مطرح کیدای.

هماغسې چې اوسني حاکمیت، حاکم نظام او د هغوې ساتونکې په تیرولسو کلو کې وتوانیدل د دیموکراسی، آزادی، د آزاد بازار اقتصاد، بشري حقوقو او داسې نور منل شوي انساني ارزښتونه د خلکو په ذهن او فکر کې داسې وټکول چې نور نو د هغو د نومونو سره په ټولنه کې نفرت پیدا شوې په دې توګه به د لوې جرګې او داسې نورو مشروعو، تاریخی اصولو سره به دا نظام په خپلو ناروا کړو په کافی اندازه نفرت او انزجار ایجاد او تولید کړي.

په بعضي لیکنو کې په دې جرګه کې د ګډون کوونکو ترکیب او اصل غیر اساسی ګڼل او د اساسي قانون منل شوې شکل، فورم او محتوی ته په ټیټه سترګه کتل شوي چې یوه بسټیزه خطا او تیر وتنه بولم. درسته به نه وي چې یواځې په قومي او تاریخي پاکو احساساتو باندې په اتکاء او خوشباوری او دهغه په اساس د تقلبی، فرمایشي او د حاکمیت د فریب د نانندرو پلوی وکړو او ځان ته قناعت ورکړو چې ګویا ملي، افغانی او وطني برخورد او موضع ګیري کوو. د موضوع نه داسې پوهه یوه هغه اساسي تیرونه او سیاسي خامي ده چې د منلو وړ نه ده.

**اوس نو راشو د دې لویې جرګې اجندا او محتوی ته:**

**داچې اصلي قصد او هدف داوه چې په دې جرګه کې اجندا دافغانستان د اساسي قانون تغییر، د افغانستان او امریکې ستراتیژیک تړون او ملي مصالحه مطرح وه او ولې لمړې ماده له اجندا وغورځیده دا هغه خبر به د پردې هغه خوا خلکو ته معلومه وي.**

**په کلکه ویلی شم چې** په عمل کې اصلی هدف دحاکمیت دیو بل ډول د ادامې لپاره وسیع تبلغاتی کار وه ترڅوخپل د حاکمیت ادامه په هرقیمت د نړیوالې ټولنې سره په خبرو اترو کې مطرح کړای شي.

**راشو د افغانستان او نړۍ سره د افغانستان اړیکې په مختلفو سطحو او کچه:**

افغانستان یوه جدا ټاپو نه دې چې د انساني ټولنې سره د اړیکو نه پرته دې خپل عادي ژوند وکړای شي. مونږ نړۍ سره او دهغه جملې څخه د نړۍ ستر او د اوس لپاره یواځنې ستر قدرت او ځواک یعنی د امریکې د متحدو ایالاتو سره د ښو اړیکو لرلو ته اړتیا لرو او نړۍ هم د ځان دامنیت لپاره یو د بل سره تړلی او روابطو ته اړتیا لري. دا متقابل ښه روابط باید وجود ولري او د متقابلو منافعو پر اصولو ولاړ وي. داچې ددې تړون مسوده وجود نه لرله چې پرې مشخص بحث شوای وای او امریکایی جانب مشخص مواضع معلوم نه وه او سره له دې په دې برخه کې دا لوې جرګې تصمیم نیوه، راته عجیبه غوندې خبر ښکاري. په دې برخه کې دمتخصصینونظر او بیا د قانون له مخې د افغانستان د پارلمان لخوا د هغو مشروعیت (راتیفکیشن) حاصلول هغه روښانه طریقه ده چې داسې اوږدولو او بیځایه مصرف (مادي او معنوي) په کې اصلا ګنجایش نه لره او ضرورت نه وه.

**راشو د ملی مصالحې او سیاسي جوړې روغې په هکله:**

په یوه ټولنه کې ترهغه پایداره سوله او استقرار نه شي راتلای ترهغه چې په سیاسي ستیج کې د ټولنی واقعی نمایندګان دمشروع او منل شوو لارو نه په ګټې اخیستو حضور پیدا نه کړي.

سیاسي مصالحه نه په حتمی ډول د بل لوري د نسخو منل دي او نه هم دغنایمو ویشل او نه هم پیسې ورکول او په دې توګه نامشروع حاکمیتونو په خپل منځ کې د قدرت ناروا ویش او په دې توګه د خپل حاکمیت د ادامې لپاره په هر قیمت کار کول او ملت په حاشیه کې واقع کول دي.

مصالحه او سیاسي مصالحه د خپل نسخو د عملي کولو لپاره د خلکو څخه د مشروعیت تر لاسه کولو باندې سیاسي مقدماتي توافق دي.

سیاسي مصالحه او مفاهمه په ټولنه کې د سیاسي فعالیتونو او اهدافو لاس ته راوړل متمدنول دي.

په دې برخو او عرصو کې نسخې، قاعدې او سفارښتونه باید د یوې کلې (کلید) په توګه ولټول شي او ومنل شي. په دې برخه کې بحث او په هغه کې د طالب او غیر طالب حرکت په نامه خلاصه کونه یوه اضافي خبر ده.

په دې او مشابهو توضیحاتو ورکولو سره په دې ځاې کې د مشورې کوم ځای او فرصت نه شته. دا منل شوي اصول او د دولتداری قواعد دي چې د فن متخصصین او د افغاني ټولنې کار پوهان یې تنظیم او په مستدل ډول بیانولای شي او دا توانایی ګانې او ظرفیتونه وجود لري. په یقیني ډول په دې برخه کې د ۲۰۳۰ تنو سره مشوره یوه بې ځایه اضافي مصرف، د وقت ضیاع او غیر عملی کاروه او دې. قواعد او خبرې منطق او ددولتدارې علم اصول په دې برخه کې روښانه دي. د کلي له خلکو نه پوښتنه کول چې په دې سړک دې ۲۰ ټنه موټر تګ اجازه ولري که یه؟ یوه بې ځایه او نا مناسبه خبرده. ددې پوښتنې ځواب باید د سړک سازی د انجینیر نه وشي نه د عامه خلکو نه.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اساسي قانون لوی جرګې ته مراجعه او يا د پارلمان نه ديوې موضوع مشروعيت (راتيفيکشن)ترلاسه کول بل هدف او قانونی مشروعيت قانوني برخورد او مشروع کاردی. ددولت داری په دې الفباء ځان پوهول خورا ډيره اساسي او بنسټيزه خبره ده.
زه په دې باور يم او وم چې ددې لسو کلو د وخت د ضايع کولو سره به دافغانستان حاکمين په دې مسايلو ځان پوه کړای وي خو ښکاري چې يا له سره نه دي پوه شوي او يا هم ځان پرې پوهول د ځان په ګټه نه بولي.
په دې توګه دا جرګه نه لويه جرګه وه نه دوديزه او د مشورتی کليمی په اضافه کولو سره يې له سره ځان په ځان کې نفيه کړ.
الهی دی ملت باندې ورحميږه. دی ملت هرکله قربانی ورکړی خو نتايج يی ځو چالاکو، مغرضو او پردو ته وفادارو او نوکرو افرادو او حلقو خپل کړي او دې وطن او ربړيدلي ملت ته حاکمانو پام نه دی کړی او ددې ملت اوږده غميزه ليا ادامه لري.
الهی ته په دې ملت ورحميږه. آمين يا رب العالمين.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ